**بسم الله الرحمن الرحیم**

# ازبکستان او حزب‌التحریر د دعوتگرانو بندیانول

**(ژباړه)**

**خبر:**

په ۲۰۲۴/۷/۵ نېټه د جمعې په ورځ د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر په ازبکستان کې زموږ له مظلومو وروڼو څخه د ملاتړ لپاره د «اې امته؛ د بیداروونکو زندانیانو له لوري ناره» تر نامه لاندې کمپاین ترسره کړ.

**تبصره:**

په ازبکستان کې د حزب التحریر د دعوت په اړه ډېرې خبرې شته دي. د دعوت له پیل تر پراخېدو پورې د دعوتگرانو پر وړاندې ظلمونو؛ د هغوی سرښندنې او درېځونه ... خو دلته لږ تر لږه د دغه خبر په اړه پر لاندې مواردو تبصره کوو:

**لومړی-** که چېرې په ازبکستان کې د حزب‌التحریر فکر په شدت سره نه خپرېدلی، په دې کچه له نیول کېدو او شکنجه کېدو سره نه مخ کېدل؛ ځکه د مړي جسد نه جنگېږي.

**دویم-** کله چې نن ورځ د ازبکستان نوم اخیستل کېږي، د اندیجان عام وژنې ته اشاره کوي، چې په هغې کې زندانیان او د هغوی کورنۍ په مرمیو ووژل شول او په قیرو کې خښ شول. کله چې نن ورځ د ازبکستان نوم یادېږي، په حقیقت کې د زندانونو او په اوبو کې د زندانیانو د ایشولو یادونه کېږي، چې بیا په شهادت ورسېدل؛ لکه څنگه چې له عثمانوف رحمه‌الله سره ظلم وشول او همدارنگه د غاښونو ایستل، په هوا کې په سیخ را ځوړندول، زندانیان په ایډز اخته کول، خفه (زندۍ) کول، له مور څخه د نوي زیږېدلي ماشوم لرې کول ... د یادونې وړ دي.

کله چې نن د ازبکستان یادونه کېږي، خپلو لمسیانو ته د مېرمن اناباطخان رحمه‌الله خبرې رایادېږي، چې هغوی یې د دعوت په لاره کې صبر کولو ته رابلل او ویل یې: «بې زحمته راحت نشته.»

او د هغه تنکي ځوان ځواب رایادېږي، چې یوه بهرني خبریال ترې پوښتلي وو: «تاسو د حزب‌التحریر اعلامیې په ۲۰ ډالر خپروئ؟» هغه ځوان په ډاډه توگه ځواب ورکړی و او ویلي وو: «زه تاسو ته ۱۰۰ ډالر درکوم، خو تاسو د حزب التحریر اعلامیې خپرې کړئ.»

او هغه ځوان رایادېږي چې خپل دوکان به یې یوازې د ورځنیو خوړو د ترلاسه کولو لپاره پرانیسته او کله چې به یې اړتیا پوره شوه، پر هغو به یې بسنه وکړه او بیا به د دعوت لپاره روان شو.

**درېيم-** ابتلاء او ازموينه هغه سنت دي چې الله سبحانه وتعالی يې په يو شمېر اياتونو کې يادونه کړې ده؛ لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ**﴾ [عمران: ١٨٦]

**ژباړه:** *«اې مسلمانانو! تاسو به د مال او سر دواړو په برخه کې وازمويل شئ.»*

دا د انبياوو، رسولانو، اصحابو او هغو کسانو حالت و، چې له نيکۍ څخه يې پيروي کوله.

**«لَقَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ وَإِنَّ أَحَدَهُمْ لَتُحْفَرُ لَهُ الْحُفْرَةُ، ثُمَّ يُوضَعُ فِيهَا ثُمَّ يُوضَعُ الْمِنْشَارُ عَلَى رَأْسِهِ، ثُمَّ يُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ عَظْمِهِ فَمَا يَصْرِفُهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ»**

**ژباړه:** *له تاسو وړاندې داسې خلک وو، چې د هغوی لپاره به کنده وکيندل شوه، وروسته به يې هلته يوړل او پر سر به يې اره ايښوده، بيا به يې د هغې په غاښونو د دوی غوښې له هډوکو بېلولې، خو دوی به له خپل دين څخه نه اوښتل.*

او دغه حالت نن ورځ په عامه توګه د حزب التحرير پر غړو او په خاصه توګه د دوی پر رهبرانو راغلی دی.

**څلورم-** درد له منځه ځي، خو ثواب يې پاتې کېږي انشاءالله؛ همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«...وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ الْمُؤْمِنِينَ ضُرًّا وَبَلاَءً فَيُقَالُ: اغْمِسُوهُ غَمْسَةً فِي الْجَنَّةِ، فَيُغْمَسُ فِيهَا غَمْسَةً فَيُقَالُ لَهُ: أَيْ فُلاَنُ، هَلْ أَصَابَكَ ضُرٌّ قَطُّ أَوْ بَلاَءٌ؟ فَيَقُولُ: مَا أَصَابَنِي قَطُّ ضُرٌّ وَلاَ بَلاَءٌ»**

**ژباړه:** *او تېنګ مومنان له سخت ازار او ازموينې سره مخ کېږي، بيا به وويل شي: هغوی ته په جنت کې غوټه ورکړئ، نو غوټه به ورکړل شي (جنت ته به بوتلل شي) بيا به ورته وويل شي: اې فلانيه! ايا کله درته کومه بلا او مصيبت رسېدلی؟ هغه به ووايي: هېڅ بلا او تکليف راباندې نه دی راغلی.*

دا د اخرت او دنيا په اړه، د نهيلۍ او سختيو په حالت کې د قريب الوقوع ارامتيا غېر دی.

﴿**حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّواْ أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُواْ جَاءهُمْ نَصْرُنَا**﴾ [يوسف: ١١٠]

**ژباړه:** *تر دې چې کله چې رسولا ن ناهيلي شول او ګومان يې وکړ چې دوی تکذيبېږي، نو په دغه وخت کې هغوی ته زموږ نصرت راغی.*

**پينځم-** په آخرت کې هغه ورځ را رسېږي چې کبرجن ظالم به له خپلو کړنو پښېمانه شي.

﴿**وَلاَ تَحْسَبَنَّ اللهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الأَبْصَارُ * مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لاَ يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ**﴾ [ابراهيم: ٤٣-٤٢]

**ژباړه:** *او (اې رسوله) ته داسې مه ګڼه چې الله د دغو ظالمانو له کړنو څخه ناخبره دی؛ بلکې الله دوی د هغې ورځې لپاره ځنډوي، چې سترګې به یې زیاتې او دوی به حیران وي. (په هغه سخته ورځ به دغه ظالمان) تېول وېربدلي او سرونه به یې پورته نیولي وي او سترګې به یې خلاصې پاتې وي او زړونه به یې وېرې اخیستي وي.*

خو په دې دنیا کې به هم د حمزه البسیوني په څېر جزا ورکول کېږي، نوموړی د جمال عبدالناصر په وخت کې د زندان نظامي افسر و، چې د زندانیانو په شکنجه کولو کې یې شهرت درلود؛ خو خپل برخلیک یې داسې شو چې د اوسپنې په سیخونو یې ټنډه سوری شوه، غاړه یې پرې شوه او نېی اړخ یې ووېشل شو، تر دې چې اوږه یې له بدن څخه بېله شوه.

په پایله کې به د نبوت پر منهج راشده خلافت دویم ځل راپورته شي؛ که څه هم کافران، ظالمان او کبرجن ورڅخه بېزاره وي او وروسته به ظلم او تیارې د اسلام په نور او عدالت سره له منځه لاړې شي. اې مسلمانانو، تاسو دغه غږ ته رابولو!

**لیکوال: جابر أبو خاطر**